Pashto | پښتو

# د ۲۰۲۶ کال لپاره په لومړني ښوونځي کې نوم لیکنه



ښنسټ (چې د پریپ په نوم هم پیژندل کیږي) په ویکتوریا کې د لومړني ښوونځي لومړی کال دی.

که ستاسو ماشوم د ۲۰۲۷ کال د اپریل د ۳۰مې نیټې څخه مخکې ۵ کلن شي، نو هغه کولی شي ښوونځی پیل کړي. کله چې ستاسو ماشوم شپږ کلن شي، ښوونځی اجباري دی.

## زه کله غوښتنلیک ورکولای شم؟

د ۲۰۲۷ کال لپاره د ویکټوریا په دولتي لومړني ښوونځي کې د نوم لیکنې لپاره غوښتنلیکونه:

- **د ۲۰۲۶ کال د اپریل د ۲۰ مې نیټې د دوشنبې ذ ورځې څخه** پرانیستل کیږي
- **د ۲۰۲۶ کال د جولای تر ۳۱ نیټې پورې** باید ورکړل شي.

## زما د ماشوم د نوم لیکنې حقونه څه دي؟

په ویکټوریا کې، ستاسو ماشوم حق لري چې ستاسې تر ټولو نږدې ځانګړي ګاونډي ښوونځي (ستاسو سیمه ییز ښوونځي) ته د *ښوونې او روزنې لپاره د ۲۰۰۶* د تعدیل شوي قانون په اساس ولاړ شي. ستاسو سیمه ییز ښوونځی ستاسو د دایمي استوګنې پتې په اساس د ښوونځي د زون لخوا ټاکل کیږي. د نوم لیکنې د تصمیم د څرنګوالي په اړه د لا نورو مالوماتو لپاره، په ښوونځي کې د نوم لیکنې له برخې څخه لیدنه وکړئ.

## زه څرنګه خپل ماشوم د لومړني ښوونځي په لومړي کال کې شامل کړم؟

دلته د خپل ماشوم د ابتدايي ښوونځي په لومړي ټولګي کې د نوم لیکنې څرنګوالی بیان شوې ده:

1. **خپل سیمه ییز ښوونځی ومومئ**
   د خپل سیمه ایز دولتي لومړني ښوونځي یا نږدې ښوونځي موندلو لپاره www.findmyschool.vic.gov.au ته مراجعه وکړئ.
2. **له ښوونځي سره اړیکه ونیسئ**
   د ښوونځي د اختیاري لیدنې لپاره د لومړني ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې آیا ښوونځی د نوم لیکنې لپاره آنلاین (ویک سټوډینټس) یا د کاغذ پر ښنسټ د نوم لیکنې پروسه کاروي. دا معلومات د ښوونځي د ویب پاڼې له لارې موندلای شی.
3. **د معلوماتو بسته ډاونلوډ کړئ**
   د ښنسټیز (چمتووالي) ټولګي د شاملیدو معلوماتي بسته په ښنسټیز ( چمتووالي) ټولګي کې له شاملیدلو څخه ډاونلوډ کړئ. دا بسته به د پنجشنبې، ۲۰۲۶ کال د اپریل تر ۲ نېټې پورې چمتو او د لاسرسي وړ وي
4. **خپل د نوم لیکنې غوښتنلیک وسپارئ**
   د ښوونځي په وېب پاڼه کې د تشریح شوي بهیر له مخې، د ۲۰۲۶ کال د جولای تر ۳۱ نیټې د جمعې تر ورځې پورې د نوم لیکنې غوښتنلیک وسپارئ، که انلاین (VicStudents) له لارې وي او که د کاغذي فورم په کارولو سره.
5. **پایله ترلاسه کړئ**
   تاسو ته به د خپلې نوم لیکنې د غوښتنلیک د پایلې په اړه د **۲۰۲۶ کال د اګست د ۳مې دوشنبې څخه د اګست د ۱۴مې د جمعې تر ورځې پورې** خبر درکړل شئ. که تاسو وړاندیز ترلاسه کړئ، نو تاسو باید د **۲۰۲۶ کال د اګست د ۲۸مې نیټې پورې** وړاندیز ومنئ.
6. **ښوونځي ته د خپل ماشوم د لیږد لپاره چمتووالی ونیسئ**
   د ۲۰۲۶ کال د څلورم سمستر په جریان کې د زده کونکو د لیږد په غونډو کې برخه واخلئ. ستاسو ماشوم به د **پنجشنبې په ورځ، د جنوري ۲۸، د ۲۰۲۷** کال څخه ښنسټ پیل کړي.

## زه څرنګه خپل سیمه ییز ښوونځی ومومم؟

خپل سیمه ییز ښوونځی د Find my School په ویبپاڼه کې د لاندې ګامونو په ترسره کولو سره ومومئ.

1. په خپل براوزر کې www.findmyschool.vic.gov.au ولیکئ.
2. خپله دایمي پته د 'Enter your address to get started' خځه لاندې ولیکئ.
3. د 'Enrolment year' خځه لاندې ۲۰۲۶ کال انتخاب کړئ. د ۲۰۲۷ کال لپاره د ښوونځیو زونونه به د ۲۰۲۶ کال د اپریل تر ۲ نیټې د پنجشنبې تر ورځې پورې د لاسرسي وړ وي.
4. د 'School type' لاندې لومړنی غوره کړئ.

دا نقشه به ستاسو پته، ستاسو سیمه ییز ښوونځی او په کیڼ اړخ کې د ښوونځي لپاره د اړیکو سپړنې وښیي. که تاسو د پاڼې لاندې برخې ته لاړ شئ، دا به ستاسو پتې ته پنځه نږدې ښوونځي هم وښیي. تاسو کولای شئ د 'Search for School' لاندې د ښوونځي نوم هم ولټئ.

## که زما د نوم لیکنې غوښتنلیک ناکام شي نو څه به وشي؟

که ستاسو غوښتنلیک بریالی نه وي، تاسو کولی شئ:

- بل ښوونځي ته **غوښتنه وکړئ**. ستاسو د ماشوم لپاره د دوی په سیمه ییز ښوونځي کې د ځای شتون تضمین دی. زما ښوونځي ومومه ته مراجعه وکړئ تر څو د خپل ماشوم سیمه ییز ښوونځی پیداکړئ.
- د پریکړې پر وړاندې عریضه (اعتراض) وکړئ. په بنسټیز (چمتووالي) ټولګي کې د شاملیدو پاڼه د شاملیدلو د پریکړې د بیاکتنې غوښتنې د پروسې په اړه معلومات لري.

## که چېرې زه د شاملیدلو مهالویش له لاسه ورکړم نو څه به کیږي؟

تاسو کولی شئ خپل ماشوم د ۲۰۲۷ ښوونیز کال لپاره د فاونډېشن (Foundation) ټولګي کې د نوم لیکنې غوښتنه د **۲۰۲۶ کال د اپریل له ۲۰ دوشنبې** څخه هر وخت وکړئ.

که څه هم له تاسو څخه غوښتنه کېږي چې د نوم لیکنې غوښتنلیک د **۲۰۲۶ کال د جولای تر ۳۱ نیټې د جمعې تر ورځې پورې** وسپارئ، خو هغه کورنیو ته چې د نوم لیکنې له ټاکلي وخت څخه پاتې شوی وي، خپل دایمي استوګنځای یې بدل کړی وي، یا تازه ویکتوریا ته راغلي وي، ناوخته غوښتنلیکونه یې هم منل کېږي.

د **۲۰۲۶ کال د جولای تر ۳۱ وروسته سپارل شوي د نوم لیکنې غوښتنلیکونه به** د وزارت د نوم لیکنې د پالیسۍ له مخې، د ابتدایي ښوونځي له خوا د ترلاسه کېدو پر بنسټ اداره او ارزول کېږي.

## په لومړني ښوونځي کې د نوم لیکنې په اړه نور معلومات چیرته ترلاسه کولای شم؟

تاسو کولای شئ د بنسټیز ټولګي د نوم لیکنې د پروسې په اړه نور معلومات د خپل سیمه ییز لومړني ښوونځي څخه وغواړئ.

له **۲۰۲۶ کال د اپریل له ۲۰ نیټې د دوشنبې د ورځې** څخه تاسو کولی شئ د فاونډېشن (Prep) د نوم لیکنې د بهیر په اړه معلوماتي بسته د Enrolling in Foundation (Prep) په پاڼه کې هم ومومئ.

که تاسو د معلوماتو د بستې په ژباړلو کې مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د مرستې لپاره د خپل لومړني ښوونځي سره خبرې وکړئ.

## زه د مرستې لپاره له چا سره اړیکه ونیسم؟

د لیږد (انتقال) مشر، د شمولیت کارکوونکي یا د لومړني ښوونځي مدیر چې تاسو ورته غوښتنلیک استول غواړئ د هرې پوښتنې په اړه چې تاسو یې د شاملیدو د پروسې په برخه کې لرئ ، مرسته کولای شي.

## ګټور لینکونه

مهرباني وکړئ لاندې ځینې ګټور لینکونه ومومئ چې کیدای شي ستاسو لپاره ګټور وي ځکه چې ستاسو ماشوم خپل لومړنی ښوونځی پیل کوي:

زما ښوونځی ومومئ – findmyschool.vic.gov.au

د ښوونځیو د سیمو په اړه مالومات – vic.gov.au/school-zones

په بنسټیز (چمتووالي) ټولګي کې شاملیدل – vic.gov.au/enrolling-foundation-prep

په ښوونځي کې شاملیدل – vic.gov.au/how-choose-school-and-enrol

معلولیت او ټولشموله روزنه – vic.gov.au/disability-and-inclusive-education

سیمه ییزې دفتري اړیکې – vic.gov.au/office-locations-department-education-and-training

# د ۲۰۲۷ کال د ښنسټ (چمتووالي) نوم لیکنې لپاره مهال ویش

| د ۲۰۲۵ کال نېټې | والدین/پالونکي څه کولو ته اړتیا لري؟ |
|---|---|
| **۱ سمستر** | **د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ له ۲۷مې سه شنبې څخه (زده کوونکي د جنورۍ له ۲۸مې پیل کوي) د اپرېل تر ۲مې پنجشنبې پورې.** |
| **د ۲۰۲۶ کال لومړی او دوهم سمستر** | • په ابتدايي ښوونځیو کې د تنظیم شویو **ښوونځي په لیدنو کې ګډون وکړئ** *(اختیاري)*. |
| **د پنجشنبې په ورځ د اپریل ۲نیټه، ۲۰۲۶ کال** | • د ۲۰۲۷ ښوونیز کال لپاره د ښوونځیو زونونه اوس شتون لري. تاسې خپل **سیمه اییز ښوونځی په [www.findmyschool.vic.gov.au](http://www.findmyschool.vic.gov.au) کې پیدا کولای شئ.** |
| **۲ سمستر** | **دوشنبه د اپریل ۲۰ – جمعه د جون ۲۶، ۲۰۲۶ کال** |
| **د دوشنبې ۲۰ اپریل ۲۰۲۶ څخه** | • د ۲ سمستر له پیل څخه، **د خپل ماشوم غوښتنلیک بشپړ کړئ او وسپارئ** - یا آنلاین یا د نوم لیکنې د معلوماتو په بسته کې د شته غوښتنلیک د فورمې په کارولو سره، په دې پورې تړاو لري چې ستاسو ښوونځی په کومه لاره سپارښتنه کوي.<br>• **د نورو جزیاتو لپاره** تاسو کولی شئ **د نوم لیکنې معلوماتو کڅوړه** [د ښنسټ (Prep) پاڼې](#) څخه د نوم لیکنې معلوماتي بسته ډاونلوډ کړئ. |
| **۳ سمستر** | **دوشنبه د جولای ۱۳مه – جمعه د سپتمبر ۱۸مه ۲۰۲۶** |
| **د جمعې تر ورځې د جولای ۳۱، ۲۰۲۶ پورې** | • **خپل بشپړ شوی غوښتنلیک** تر دې نېټې پورې لومړني ښوونځي ته وسپارئ. |
| **د دوشنبې د اګست ۳ او جمعې د اګست ۱۴، ۲۰۲۶ ترمنځ** | • **لومړني ښوونځي به تاسو ته پدې موده کې د نوم لیکنې پایلو په اړه په** لیکلي ډول خبر درکړي.<br>• که ستاسو غوښتنلیک بریالی نه شي، تاسو کولی شئ ابتدايي ښوونځي ته عریضه وړاندې کړئ. |
| **د جمعې په ورځ د اګست ۲۸، ۲۰۲۶ پورې** | • **د خپل ماشوم ځای د نوم لیکنې د فورمې په بشپړولو سره خوندي کړئ**، کوم چې د نوم لیکنې د وړاندیز سره درکړل شوی دی.<br>• که تاسو د عریضی کولو اراده لرئ، نو د اګست تر ۲۸ مې پورې خپل لومړني ښوونځي ته لیکلي عریضه وسپارئ. |
| **د جمعې په ورځ د سپتمبر ۱۱، ۲۰۲۶ پورې** | • لومړني ښوونځي به تاسو ته د عریضی د پایلو په اړه په لیکلي ډول خبر درکړي. |
| **د جمعې په ورځ د ۲۰۲۶ کال د سپتمبر ۱۸مه** | • که تاسو په خپل لومړني ښوونځي کې د عریضه کولو لپاره ناکام شوي یاست، نو تاسو کولی شئ اړونده سیمه ایز رئیس ته لیکلي عریضه وسپارئ. |
| **۴ سمستر** | **دوشنبه د اکتوبر ۵ – جمعه د دسمبر ۱۸، ۲۰۲۶** |
| **۴ سمستر، ۲۰۲۶** | • د لومړنیو ښوونځیو په کوربه توب د لیرد په غونډو کې ګډون وکړئ. |
| **د جمعې په ورځ د نومبر ۶، ۲۰۲۶ پورې** | • که تاسو سیمه ایز ریاست سره خپل استیناف غوښتنه کړې وي، همغه خانګه به په لیکل شوي بڼه په دغه نیټه خبر درکړي. دا یوازې د هغو عریضو لپاره پلي کیږي چې د سپتمبر د ۱۸ مې نیټې د جمعې تر پایه پورې ترلاسه کیږي. |